# د نړۍ د ګڼ شمېر سیاسي ګوندونو لړونکی هیواد

هندی سیاست او سیاسي ګوندونه

Download from:aghalibrary.com

محمد داؤد افغان

7-11-2020


بسم الله الرحمن الرحيم

# <u>مطلب پیژندنه</u>

**د مطلب نوم:** د نړۍ د ګڼ شمېر سیاسي ګوندونو لرونکی هیواد

**لیکوال:** محمد داؤد (افغان)

**د برېښنالیک پته:**Modawoodafghan@yahoo.com

**د تماس شمیره:**0093 (0) 707943758

**د واټسپ شمیره:**0093 (0) 705016346

**د ترتیب کال:** ۱۳۹۸/۱۲/۳۰ ه ش

**د خپریدو نېټه:** ۱۳۹۹/۴/۲۲ ه ش

# ډالۍ!

د ولس و هغه شخصیتونو ته چې په ریښتینې بڼه یې دې
خاورې ته خدمت کړی وي او یایې د دې خاورې د ابادۍ په
لاره کې د شهادت جام نوش کړی وي!

**له زرو دوستانو يو دښمن هم زيات دی**

**(لقمان حکيم)**

==========

**بزدله انسان خپل عزت د بل په سپکاوی کي ويني**

**بزدله انسان د حسد او انتقام سرچينه وي**

**(محمد داؤد افغان)**

==========

**د بل غيبت مه کوه، ستا غيبت به نه کيږي**

**غيبت کوونکی تل د نورو په وړاندي سپک وي**

**(محمد داؤد افغان)**

==========

**که حکومتي چارواکي د سياسي مصلحت په اساس و ټاکل سي**

**نو ولس دي ترې د خدمت طمعه نلري**

**(محمد داؤد افغان)**

==========

**یاداښت!**

دغه تحلیلي مطلب یوائې په پښتو ژبه کي د کافي معلوماتو د نشتون په وجه تر ډیره د انګلیسي ژبې څخه را ژباړل سوی، چي نوی نسل ورڅخه کافي معلومات تر لاسه کړي.

# لړلیک


سیاسي ګوندونه او هندی سیاست 0

پیژندنه 0
یو ګوندي نظام 1
دوه ګوندي نظام 1
څو ګوندي نظام 1
سیاسي ګوندونه 1
تر ۲۰۱۳ م کال پوري په هند کي سیاسي ګوندونه 2
د هندي ګوندي نظام بڼي 3
څوګوندي نظام 3
ملی ګوند 3
د هندي ګوندي نظام بڼي 4
څو ګوندي نظام 4
د روښانه ایډیالوژۍ نه درلودل 7
د دودیزو عواملو پر اساس 8
په ایالتونو کي د سیمه ایزو ګوندونو ظهور 8
د مؤثره اپوزیسون نشتون 9
غیري اصولي اتحاد 9

# سیاسي ګوندونه او هندی سیاست

## (۱۹۵۰-۲۰۰۰م)

**پیژندنه**

مخکي له دي چي د هند سیاسي ګوندونو ته مراجع و کو لمړی به د هند هیواد پیژندني ته راسو. هند د اسیا په لویه وچه کي له چین څخه وروسته دویم لوی هیواد دی چي د اسیا په جنوبي برخه کي موقعیت لري، د چین، نیپال، بوتان، برما(میانمار)، بنګله دیش، پاکستان، د بنګال خلیج، عربي بحري او د هند له اقیانوس سره ګډه پوله لري. ټول مساحت یي ۳۷۲۶۳۲۸ کیلومتره مربع ته رسیږي او د نفوسو له لحاظه تر چین وروسته لوی هیواد ګڼل کیږي چي د ۲۰۱۹ م کال د احصایي په اساس ۱،۳ ملیارده نفوس لري. پایتخت یي د نوي ډهلي ښار دی، پولي واحد یي هندي کلداره ده او سیاسي نظام یي فدرالي جمهوري دی. د جمهور رئیس واکونه تر ډیره حده تشریفاتي بڼه لري او اجرایوي اختیارات له لومړي وزیر سره دي چي د پارلمان له خوا ټاکل کیږي.

ګوندي سیاست همیشه د هند د سیاستونو په څنګ کي د یوې غټي برخې په څیر پاته سوی دی یعني په هند کي ملي سیاست تر ډیره حده پر سیاسي ګوندونو ولاړ دی. د هند په سیاستونو کي لویه برخه تر ډیره حده سیاسي ګوندونه او د قدرت لپاره د هغوی هڅي تشکیلوي. سیاسي ګوندونه په ماهیت کي د اساسي قانون څخه بهر همیشه په سیاسي جریان کي د رهبرئ د یوې برخې په توګه نقش لوبوي. دوی (سیاسي ګوندونه) هغه اصلي اداکاران دي کوم چي د خپلو ګټو او د تقاضاؤ پوره کولو او انتقالوني وظیفه د متبادلو پالیسیو په وسیله سره اجراء کوي مطلب دا چي دوی خپلي غوښتني او ګټي په واکمن ګوندونو باندي د متبادیلو پالیسیو په وسیله سره مني. دوی د سیاسي نظام د عملي کیدو او بشپړیدو په جریان کي یو کلیدي نقش اجراء کوي. دوی د سیاسي خبرو اترو حیاتي چینلونه جوړوي کوم چي دوه طرفه معلومات انتقالوي د خلکو څخه حکومت ته او برعکس( د حکومت څخه خلکو ته). یو سیاسي نظام یوازې هغه وخت ډیموکراتیک ګڼل کیږي، کله چي د دغه نظام خلک د دې حق ولري چي سیاسي ګوندونه تنظیم او ترتیب کړي او هغه وخت چي په حقیقت کي لږ تر لږه یوازې دوه ګوندونه په یوه داسي هڅه کي شکېل سي چي د قدرت لپاره مبارزه و کړي. دغه ټوله د یوه ډیموکراتیک سیاسي نظام لپاره مهم دي په خاصه توګه د داسي یو نظام لپاره لکه اوس چي په هندی ټولنه کي فعالیت کوي. هند د یوه لیبرال ډیموکراتیک نظام او د یوه پارلماني حکومت لرونکی

دی. هندی سیاسي گوندي نظام د ډېرو سیاسي گوندونو سره په څنګ کي کار کوي کوم چي په دوامداره او فعاله ډول سره په سیاسي جریان کي داخل دي. د ۱۹ (نولسمي) پیړئ په دوهمي نیمایي کي ډېرو سیاسي فعاله ډلو په هند کي په سر راپورته کولو شروع و کړه. په دغه وخت کي په نړۍ کي د گوندي نظامو دري ډولونه موجود وه لکه یو گوندي نظامونه، دوه گوندي نظامونه او څو گوندي نظامونه.

**یو گوندي نظام**

یو گوندي نظام هغه نظام ته ویل کیږي چیري چي یواځي واکمن گوند په واک کي موجود وي او هیڅ اپوزسیون ته اجازه نه وي لکه په پخوانی کمونیست (U.S.S.R) هیوادونو کي او نورو ختیځي اروپایي هیوادونو کي.

**دوه گوندي نظام**

دوه گوندي نظام هغه نظام ته ویل کیږي چي په یوه هیواد کي دوه غټ گوندونو وجود ولري کله یو گوند په واک کي وي او کله بیا بل گوند په واک کي وي د مثال په ډول لکه په امریکا متحده ایالاتو (U.S.A) او بریتانیا کي.

**څو گوندي نظام**

څو گوندي نظام هغه نظام ته ویل کیږي کوم چي په یوه هیواد کي ګڼ شمیر گوندونه موجود وي او د ایتلافي حکومتونو د جوړولو رهبري کوي په داسي هیوادونو کي همیشه د گوندونو ایتلافي حکومتونه جوړیږي د مثال په ډول په ایتالیا ، فرانسه ، سویزرلیند او هند کي.

**سیاسي گوندونه**

د هیواد (Continental size) ، د هندی ټولني مختلفي بڼي، د نړیوالو ځوانانو د قبلوني امتیاز، د ځانګړي ډول سیاسي پروسي او نور عوامل(فکتورونه) لا حتی هم حق لري چي په هند کي و ډېر شمیر سیاسي گوندونو ته لار پیدا کړي. دغه گوندي نظام د هندي سیاستونو د چاپیریال په بدلون کي یو مهم نقش لري. گوندي نظام د ډیموکراسۍ بنیاد ګڼل کیږي. دغه (گوندي نظام) د خلګو او حکومت ترمنځ یوه رابطه ګڼل کیږي. یو سیاسي گوند د خلکو لپاره په عادي نظریاتو (ایډیالوژیو) سره د پل په شکل خدمت کوي یعني د خلکو او حکومت ترمنځ د غوښتنو د انتقالونکي په شکل خدمت کوي. هر سیاسي گوند په انتخاباتو کي د مبارزې کولو هدف لري چي د مقننه قوې او د

حکومت د اجرائیه قوې یوه برخه سي. د دغه مطلب له لاري په یو څو ګوندي نظام کي د ګوندونو په موجودیت کي په ملي او ایالتي سطحه بحث کیږي.

د ټاکنیزي مبارزې لپاره هر ګوند باید خپل ځان د هند د انتخاباتو د کمیسون سره ثبت کړي. هغه ګوند چي اکثریت چوکی په انتخاباتو کي و ګټي نو حکومت به جوړوي او د انتخاباتو د کمیسون جوړي سوي پالیسۍ به عملي کوي او همدرانګه هغه ګوند چي په دوهم قدم کي ډیري رایي ګټي په پارلمان کي به د اپوزسیون نقش اجراء کوي او د حکومت کړني له نږدې څخه تر سترګو تیروي یعني د حکومت له کړنو څخه به له نږدې څار کوي. سیاسي ګوندونه په هند کي د ډول ډول شخصیتونو د قوتونو او تاریخی پرمختګونو ماسیوا وده کوي او دغه ګوندونه د یوه لوی قوت په شکل په سیاسي جریاناتو کي عمل اجراء کوي. په حقیقت کي هند د نړۍ تر ټولو ډیر شمیر سیاسي ګوندونه لري.

**تر ۲۰۱۳ م کال پوري په هند کي سیاسي ګوندونه**

تر ۲۰۱۳ م کال پوري په هند کي ۷ ملي سیاسي ګوندونه ، ۵۱ ایالتي ګوندونه او ۱۴۱۵ ثبت او ناثبت سیاسي ګوندونه موجود وه. اضافه تر دې هند د سیاسي ګوندونو ټولي طبقې لري لکه چپ اړخي ګوندونه، منځ اړخي ګوندونه، ښي اړخي ګوندونه، عوامي ګوندونه، غیري عوامي ګوندونه او داسي نور. په پایله کي ویلای سو چي (Hung Parliament)[1]، (Hung Assemblies)[2] او ائتلافي حکومتونه[3] (Coalition Governments) په هند کي یو عام واقعیت ګرځیدلي دی. د آزادۍ اخیستلو څخه ورسته د یوه مکمل نوي ډیموکراتیک نظام په تطبیق سره د څو ګوندي نظام د ظهور تهداب په هند کي کینودل سو.

د دې لپاره چي په هند کي د ګوندي نظام په اغیز باندي پوه سئ. دا ضروري ده چي په هند هیواد کي د ګوندي نظام په ماهیت پوه سئ. اوس به تاسو د ګوندي نظام په اصلي بڼو پوه سئ کوم چي په هندي ګوندي نظام کي وجود لري. په پارلماني شکل حکومت کي د پارلماني ډیموکراسی لپاره حقیقي نوم ګوندي حکومت دی. سیاسي ګوندونه د حکومت او خلګو تر منځ یو مازي ارتباط

---

[1] (of a parliament or council) (BrE) in which no political party has more elected members than all the other parties added together.

[2] (Assemblies) (BrE) in which no political party has more elected members than all the other parties added together.

[3] هغه حکومتونه چي د څو ګوندونو د اتحاد په اساس رامنځته سوی وی

ندی یعني سیاسي ګوندونه د حکومت او خلکو تر منځ یو قوي او نه جلاکیدونکې اړیکه ده. دوی د ټولنیز بدلون او تغیر وسیلې دي. سیاسي ګوندونه په انتخاباتي جریان کې د کاندیدانو په تنظیم کولو او په ټاکنیز کمپاین ترسره کولو کې تر ټولو ډیر ارزښتناک نقش لوبوي.

په اتحادي او ایالتي کچه بې ثباتي کیدلای سي ډیر د ګوندونو په شمیر پوري اړه ولري او یا د دغه سیاسي نظام په بڼې پوري اړه لري کوم چې نن ورځ یې په هند کې ملاتړ کیږي، او همدارنګه دا په هند کې د ګوند او ګوندي نظام په عمل او فعالیت پوري اړه لري. په مجموع کې د یو سیاسي نظام د نورو کلاسونو (Clauses) څخه په جلا بڼه فعالیت لري.

**د هندي ګوندي نظام بڼې**

اوس به تاسو په هند کې د ګوندي نظام په بڼو باندي پوه سئ.

**څوګوندي نظام**

دا د هندي ګوندي نظام تر ټولو مهم بڼه ده چې د فرهنګي جمعیت (Cultural Pluralism) د تبعیض څخه یو اځې خالي پاته ده. حتی د ازادئ د ځرک مخکې هم هند د څو ګوندي نظام یو طبیعي کور ؤ، اوس هم دی چې حتی د ازادئ د ځرک مخکې هم څلورسیاسي ګوندونو را څر ګند سول لکه د کانګریس ګوند، د مسلم لیګ ګوند، د هندومهاسبا ګوند، او کمونیست ګوند او همدارنګه د وخت په تیریدو سره په تدریجي توګه د سیاسي ګوندونو شمیر ډیریدی. د ډیرو او ډیرو سیاسي ګوندونو د مخته راتګ لړئ د هندي ګوندي نظام د پوهیدو لپاره یو دوامداره واقعیت دی. د یو څو ګوندونو موجودیت په ملي سطحه، سیمه ایزه سطحه، او په محلي سطحه د هندي ګوندي نظام یو حقیقت دی

.

**ملی ګوند**

یو ملي ګوند هغه دی چې د ټولو کارول سو ؤ رایو ۴٪ رایې ولري او لږ تر لږه په څلورو ایالاتونو کې فعاله وي. که څه هم د۱۹۶۷ م کال وروسته ، په خاصه تو ګه ډیر د ۱۹۷۷ م کال څخه

وروسته د هند سیاسي نظام د یو قوت یا قدرت په توګه د نورو مختلفو سیاسي ګوندونو دواړه په ملي او ایالتي سطحو په منځ کي کار کوي. په مختلفو ایالاتونو او وختونو کي د ګڼ شمیر سیمه ایزو سیاسي ګوندونو په قدرت کي شکیلیدل او ګوند په مرکزي قدرت بدلیدل د هندي سیاسي ګوندي نظام په ځانګړني بدله سوې ده.

**د هندي ګوندي نظام بڼې**

**څو ګوندي نظام**

په ۱۹۷۷ م کال کي د (Janata-Lok Dal) ګوند په شدت سره د کانګریس څخه قدرت و ګاټه. په ۱۹۷۹ م کال کي د (Lok Dal) ګوند د (Janata) ګوند د رژیم ځای ونیوئ. په ۱۹۸۰ م کال کي د کانګریس ګوند بیرته قدرت ته راستون سو. په ۱۹۸۹ م کال کي د (Janata Dal) ګوند کوم چي یو ملي جبهه (National Front) ده قدرت ته رامخته سوه. د ۱۹۹۸ م کال په مارچ میاشت کي د (BJP) ګوند اتحاد ته لار برابره کړه او په ۱۹۹۹ م کال په اکتوبر میاشت کي ملي ډیموکراتیک اتحاد یعني د (BJP) او ۲۳ نورو ګوندونو سره اتحاد وکړ او میدان ته رامخته سول چي په ملي سطحه قدرت په لاس کي واخلي.

په ایالاتونو کي هم ګوندونو بدلون کوي لکه په پنجاب کي کانګریس ګوند، په مهاراشترا کي (Congress-NCP) ګوند، په اندراپردیش کي (TDP) ګوند، په تامیل ناډو کي (AIADMK)، په لویدیځ بنګال کي (CPM) ګوند اتحاد و کړ، په اسام کي کانګریس ګوند، په (UP)کي(BJP-BSP) ګوندونه، او په جمو کشمیر کي (National Conference) او نور ګوندونه په ډیرو نورو ایالتونو کي په واک کي دي.

په دې توګه، هند څو ګوندي نظام ته پرمختګ ورکړی دی. د ګوندي سناریو چټک تغیر د هندي ګوندي نظام یو له ډیرو مهمو بڼو څخه ده. د ګوند ساختمان په دومداره او چټک ډول سره د لاندي لاملونو په وجه تغیر خوري لکه ویشونو(تجزیې)، جلاوالي، اتحادونو، او د اتحادونو په جلاوالي سره. تقریبا هر سیاسي ګوند د پورته لاملونو په اساس سره جلا کیږي د مثال په ډول د کانګریس ګوند څلور ځله ویشل سوی دی (په ۱۹۶۹ م ، ۱۹۷۷ م ، ۱۹۹۵ م او په ۱۹۹۹ م کلونو کي ).

په ۱۹۹۹ م کال کي (Nationalist Congress) گوند د کانګریس ګوند د یو ویش په ترڅ کي رامنځته سو. د۱۹۶۴ م کال په شاوخوا کي د کمونیست ګوند و ویشل سو چي په هندي سیاسي هورایزون (Horizon) کي دوه نوي ګوندونه د (CPI) او (CPM) په نومونو سره را پیدا سول. په ۱۹۶۷ م کال کي د څلورم ځل عمومي انتخاباتو وروسته د کانګریس ګوند ډیر بدلونونه تجربه کړل. هندي ګوندي نظام انعطاف پذیري وښودله. که څه هم په ۱۹۷۱ م کال په انتخاباتو کي اپوزیسیون ګوندونو د کانګریس ګوند په نسبت غټ زیان ولیدئ او ډیر کمزوري سول. په ۱۹۷۷ م کال کي په ګوندي نظام کي یو غټ بدلون رامنځته سو دا په داسي وخت کي چي (Jan Sangh) , (Bhartiya Lok Dal), (Socialist Party), (Congress (I)) او (Congress Rebels) سره یو ځای سول او یو ګوند چي د (Janata) په نامه یادیږي جوړ کړه.

په ۱۹۷۷ م کال د مې په میاشتي کي کانګریس د ډیموکراسی لپاره ګوند د ډیر شمیر ګوندونو سره یوځای سو. په ۱۹۷۸ م کال کي د کانګریس ګوند یو ځل بیا پر دوؤ ګوندونو و ویشل سو چي د (Rebel Congressmen) په وسیله څوک چي د (Devraj Urs) په وسیله رهبري کیدل د (Congress (U)) په نوم بل ګوند جوړ کړ. په ۱۹۷۹ م کال کي د (Janata) ګوند و ویشل سو څه وخت چي (Janata (S)) (Lok Dal) ګوندونه په خپله د دغه ګوند څخه جلاسو.

د ۱۹۸۰ م کال په اپریل میاشت کي د پخواني (Jan Sangh) غړو چي جلا سوي ډله وه د (Bhartiya Janata) په نامه ګوند جوړ کړ. په ۱۹۸۸ م کال کي د (Janata Dal (S)) ګوند د (Janata Dal) له ګوند څخه جوړ سو. د ( ۱۹۹۹ - ۱۹۹۱) م کلونو په جریان کي د (Janata Dal) ګوند لږ تر لږه دوه ځله وویشل سو او یا (د لوي ګروپ) د پریښودلو باعث سو. د ۱۹۹۵ م کال په مې میاشت کي د کانګریس ګوند مخالفین د ښاغلي (Arjun Singh) او د ښاغلي (N.D. Tiwari) له لوری په حقیقت کي رهبري کیدل چي په نتیجه کي د (Congress (I)) په نامه بل ګوند رامنځ ته سو.

د ۱۹۹۶ م کال د مې په میاشت کي یو ۱۳ ګوندیز متحده جبهه (United Front) چي ځانونه یي سیکولر جبهه بلل، د کمونیزم د قوتونو په خلاف د قدرت د بدلون لپاره جوړ سو او د (BJP) د ګوند مخنیوی په مرکزي سطحه وکړي چي قدرت تر لاسه نکړي. دغه (United Front) ګوند خپل لمړنی حکومت د ۱۹۹۶ م کال د جون په میاشت کي د (Shri .H D. Deva Gawla) د خپل حکومت د لمړي وزیر په صفت سره جوړ کړ. او دوهمي متحدي جبهې (United Front)

خپل حکومت د ۱۹۹۷ م کال په اپریل میاشت کې د (Shri.I.K. Gujral) د خپل حکومت د لمړي وزیر په صفت سره جوړ کړ. په ۱۹۹۸ م کال د مارچ په میاشت کې د (BJP) ګوند په مشرئ سره ۱۳ ګوندونو ایتلاف وکړ او په ایتلاف سره قدرت ته راغلل. په ۱۹۹۹ م کال کې د (BJP) ګوند او ۲۳ نورو ګوندونو د (National Democratic Alliance) په نامه یو اتحاد رامنځ ته کړ او د ۱۹۹۹ م کال د اکتوبر د میاشتې په انتخاباتو کې یې اکثریت رایې ترلاسه کړې.

د ۲۰۰۲ م کال د مې په میاشت کې د (UP-BSP-BJP) ګوندونو لخوا ایتلافي حکومت جوړ سو. د کانګریس (NCPM)، او د کانګریس (NSP) ګوندونو کوښښ کاوه چې ورته نږدې سي. د (Janata Dal) ګوند په یوې چټکې سلسلې کې پر ډیرو نورو ګوندونو باندې و ویشل سو او په همدا وخت کې ډیر (Janata Dal) ګوندونه په موجودیت کې وه. د هند ګوندي نظام چټک بدلون منونکی نظام دی. دغه حالت تقریبا یو دوامداره جریان دی. د ۱۹۴۷-۱۹۸۹ م کلونو په منځ کې د کانګریس ولاړ حالت او د (۱۹۹۱-۱۹۹۹) م کلونو تر منځ په جریان کې د مخکني حالت برعکس جریان د هندي ګوندي نظام یو له مهمو بڼو څخه دی.

د هند څو ګوندي نظام د نورو هیوادونو د څوګوندي نظامو سره په مخالف شکل خپل فعالیتونه مخته وړي د مثال په ډول د فرانسې او سویزرلینډ د هیوادونو د څوګوندي نظام د فعالیتونو په مخالف جهت کې دا مثالونه مو ځکه را واخیستل ځکه چې اوس موجودیت لري مطلب دا چې د هند څو ګوندي نظام د نورو دولتونو د څو ګوندي نظامو سره کاملا توپیر لري. لږ تر لږه تر ۱۹۸۹ م کال پورې یو حاکم ګوند حاکم ؤ چې هغه د کانګریس ګوند ؤ. د۶۷-۱۹۴۷ م کلونو په منځ کې څه وخت چې کانګریس په مکمل ډول د هند په سیاسي صحنه کې په ملي کچه او هم په ایالتي سطحه حاکم ؤ.

د۱۹۷۴-۱۹۷۱ م کلونو په منځ کې کانګریس ګوند په دواړو اتحادي او ایالتي سطحو خپل د حاکمیت مقام بیرته تر لاسه کړ. که څه هم د ۱۹۷۵ م کال د جون د میاشتې څخه تر ۱۹۷۷ م کال د مارچ تر میاشتې پورې بیړنی قانون ورباندې وتپل سو چې د دوی شهرت یې ډیر راکم کړ او د ۱۹۷۷ م کال په انتخاباتو کې د دوی د ماتې سبب سو. د متحده اپوزسیون (Janata Party) د جانتا ګوند د کانګریس ګوند ته په ماتې ورکولو کې کامیاب سو. په ۱۹۷۹ م کال کې د (Janata) ګوند خپل داخلي فعالیت داسې جوړ کړ چې بیړنی قانون یې د دوهم ځل لپاره پر کانګریس حاکم ګوند

باندي و تېپئ چي د بیا ظهور کیدو مخه یې ونیسي او د هندي سیاسي نظام د ۱۹۸۰ م کال په انتخاباتو کي یې د ماتې سره مخ کړي.

د دوهم ځل لپاره بیا د ګانګریس ګوند د ۱۹۸۴ م کال په انتخاباتو کي یو شانداره کامیابي خپله کړه چي په (Lok Sabha)[4] کښي یې ۴۱۱ چوکۍ خپلي کړې. مګر دغه ګوند په ۱۹۸۷ م کلونو په ۱۹۸۹ م کال په انتخاباتو کي ښه ونه ځلیدئ. د۱۹۹۷-۱۹۹۱ م کلونو تر منځ د کانګریس ګوند خپل محبوبیت په تغیر حالت کي وساتئ. په ۱۹۹۳ م کال د نومبر په میاشت کي دغه ګوند په (Lok Sabha) کي د اکثریت په ساتلو سره کامیابه سو. تر اوسه پوري دغه یقیني ده چي دغه ګوند خپل پخوانی حاکم مقام بیرته نسي تر لاسه کولای، ځکه چي دغه ګوند اوس هم د خپل داخلي عملیاتي پروګرام او د شخصیت پاله سیاستونو په اساس د پلویانو د کمښت سره مخامخ دی او د همدغه دوو سببونو د وجه د ستونزي سره مخ دی.

**د روښانه ایډیالوژۍ نه درلودل**

د (BJP) او دوه کمونیست ګوندونه چي د (CPI) او (CPM) په نومونو سره یادیږي ماسیوا نور ټول ګوندونه په هندي دولت کي روښانه ایدیالوژیاني نلري، او نور ټول سیاسي ګوندونه په ایډیالوژیکي نظره یو بل ته ورته دي یا ډیر نږدې دي. دوی ټوله په خپلو پالیسیو او پرو ګرامونو کي ډیر نږدې ورته والی لري تقریبا هر ګوند د ډیموکراسی، سیکولریزم، سوشیالیزم او ګاندیزم نماینده ګي او ساتنه کوي. بر علاوه پر دې حتی هر ګوند او د تش په نامه ګوندونو په شمول د یوه اساسي قانون رهبري کوي چي هغه د قدرت تر لاسه کول دي، مطلب دا چي ټول ګوندونه د قدرت لپاره کوښښونه کوي. ځکه نو سیاستونه موضوعي سوي دي تر ایډیالوژیکي او واقعیت پالني اصولو ته په ژمنوالي عوضي سوي دي.

**شخصیت پالنه**

ډیر کله ګوندونه د لویو مشرانو یا بانفوذه اشخاصو څخه تنظیم سوي وي او دغه اشخاص تر ګوند او د ګوند تر ایدیالوژیو ډیر مهم ګڼي. ګوندونه د دوی تر اساسنامي د دوی په مشرانو باندي پیژندل کیږي یعني ټول ګوندونه تر خپلو اساسنامو او ایډیالوژیو خپلو مشرانو او د هغو ایډیالوژیو ته ارزښت ور کوي. دا یو حقیقت دی چي د کانګریس ګوند محبوبیت او شهرت په اساسي ډول د

[4] په هند هیواد کي د ولس د نماینده ګانو کور ته ویل کیږي لکه په افغانستان کي ولسي جرګه.

(Nehru)، اندرا گاندي، او راجيو گاندي د رهبریت په اساس ؤ. دې ته ورته د (AIADMK) گوند په تامیل ناډو کي او (TDP) گوند په اندرپردیش کي د ښاغلو (MG. Ramachandran) او (NT Ramarao) سره شهرت تر لاسه کړ. جالبه لا داده، چي ډیر گوندونه د هغوی د مشرانو په نومونو جوړ سوي دي لکه (Bijju Janata Dal)، ((Lok Dal (A)) او ((Congress (I)) او داسي نور. ځکه نو داسي ویل کیږي «چي په هند کي د سیاسي گوندونو پر ځای سیاسي شخصیتونه موجود دي».

**د دودیزو عواملو پر اساس**

په لویدیځو هیوادونو کي سیاسي گوندونه د ټولنیز اقتصاد او سیاسي پروگرامونو په اساس جوړیږي. له بله اړخه ډیر شمیر گوندونه په هند کي د دین، طبقي، ژبي، فرهنگ، نژاد او داسي نورو پر اساس جوړیږي د مثال په توگه (Shiv Sena)،(Muslim League)،( Hindu Mahasabha)، (Akali Dal)، (Muslim Majlis)، (Bahujan)، (Samaj Party)، (Republican party of India)، (Gorkha League) او داسي نور. د دغو گوندونو کار د عوامو د پرمختگ او د جنسیت د توازن پر مراعاتولو جنجال دی ځکه نو د خلکو عامه گټو په زیان دي، د دې ټولو خبرو څخه هدف دا دی چي په هند او ډیرو نورو دولتونو کي لکه افغانستان، ایران اونورو کي گوندونه د هیواد د پرمختگ او یوالي د پروگرامونو پرځای د ژبي، فرهنگ، دین، نژاد، طبقي او نورو په اساس جوړیږي، چي دا بیا د عام ولس په ضرر تمامیږي.

**په ایالتونو کي د سیمه ایزو گوندونو ظهور**

د هندي گوندي نظام یو بله مهمه بڼه د ډیر شمیر سیمه ایز سیاسي گوندونو ظهور او د هغوی عملي واک په ایالتونو کي دی. دوی په مختلفو ایالتونو کي واکمن سوي گوندونه دي لکه د (BJD) گوند په (Orissa) کي ، د (AIADMK) & (DMK) گوند په تامیل ناډو کي، د (Akali Dal) گوند په پنجاب کي، د (AGP) گوند په اسام کي، د (Shiv Sena) گوند په (Maharashtra) کي او داسي نور.

په اول سر کي دغه گوندونه یوائې تر سیمه ایزو سیاستونو پوري محدود سوي وه. لیکن اکثره وخت دغه گوندونه په ملي سیاستونو کي یو ډیر ارزښتناکه نقش اجراء کوي چي دغه ملي سیاستونه د ایتلافي حکومت په مرکز کي لوبوي، داسي ویلای سو چي گوندونه ملي سیاستونه د هیواد په مرکز کي لوبوي او کوښښ کوي چي د دولت د یوه مخکښ گوند په څیر د عامو خلکو

نماینده ګي و کړي. د ۱۹۸۴ م کال په اواخرو انتخاباتو کې د (TDP) ګوند په (Lok Sabha) کې د یو لوی اپوزیسون ګوند په شکل ظهور و کړ.

**د مؤثره اپوزیسون نشتون**

یو مؤثره اپوزیسون د پارلماني ډیموکراسی د عملیاتو د بریالیتوب لپاره په هند کې ډیر ضروري دی، دغه (اپوزیسون) د واکمن ګوند د مطلقه واک میلانونو مخنیوی کوي او متبادل حکومت ته لار هواروي، داسې ویلای سو چې اپوزیسون د هر دولت لپاره ډیر ضروري دی ځکه چې اپوزیسون د واکمن دولت کمزوري نقطې دولت ته په ګوته کوي او د سمولو لپاره یې لارښونه کوي او همدارنګه د فساد د مخنیوي لپاره د دولت پالیسی څاري او د فساد بربنډولو لپاره کار کوي. که څه هم په تیرو پنځوسو کلونو کې یو مؤثره، قوي، منظم، او ارزښتناک ملي اپوزیسون ماسیوا د یوتش په نامه اپوزیسون څخه نه دی رامنځته سوی.

اپوزیسون ګوند هیڅ اتفاق نه لري او ډیر کله په ظاهره په متقابل مخالف جهتونو کې واکمن ګوند ته په احترام قرار لري، دوی د ملت جوړوني په جریان او د سیاست په بدنه کې د فعالیتونو د یوه جوړونکي په نقش لوبولو کې ناکامه سوي دي.

**غیري اصولي اتحاد**

د لنډ مهاله لوبو د ساتلو لپاره سیاسي ګوندونه په هند کې ډیر کله غیري اصولي انتخاباتي اتحادونه او ایتلافونه جوړوي. د ۱۹۸۰ م کال د جنوري د میاشتي د انتخاباتو په وخت کې تقریبا ټول سیاسي ګوندونه و غیري اصولي اتحادونو ته داخل سول د (AIADMK) ګوند د (Lok Dal) د (Janata) ګوندونه په مرکز او تامیل ناډو کې حمایه کول، دغه ګوندونه د یو عوامي ګوند سره په یو انتخاباتي اتحاد باندي تبدیل سول لکه مسلیم لیګ او یا د نورو سیمه ایزو ګوندونو سره لکه د (DMK) ګوند او (AIADMK) ګوند په تامیل ناډو کې او د (National Conference) ګوند په جمو کشمیر کې، دا ګوندونه اوس ډیر ویشل سوي دي دا امکان نلري چې هر سیاسي ګوند دي واک یا قدرت تر لاسه کړي، مرکز ډیر کله د ایتلاف په واک کې وي.

که څه هم، د هندي پارلماني نظام مخکې، څو ګوندي نظام موجودیت او همدرانګه د ګڼ شمیر خپلواکو نوماندانو موجودیت په انتخاباتو کې اته چنده ستونزي رامنځته کړیدي. د ۱۹۸۹م او ۱۹۹۸م کلونو په جریان کې د (Lok Sabha) ټول انتخابات تعلیق سوه نو په نتیجه کې د حکومت

جوړولو جریان ډیر سخت او ستونزمن سو. د ګوندي سیاست دغه ساده ماهیت او د ګوندونو اتحادونو و دغه ستونزي ته نور پوکی هم ورکړی دی ځکه نو اکثریت علماؤ دا دعوه شروع کړیده چي اوس د دې وخت را رسیدلی چي پارلماني نظام دي په ریاستي نظام بدل سي او یا دي د موجوده پارلماني نظام سره په څنګ کي دي پر سیاسي ګوندونو باندي محدودیت ولګوي چي د سیاسي ګوندونو نقش په مقننه قوه کي کم سي. تقریبا هر یوه یو او یا بل د هند په اساسي نظام کي د تغیر او بدلون وړاندیز کړیدی که څه هم پر دغه موضوع باندي به کوم ملي خنډونه او یا تشویشونه ظهور ونه کړي.

د ۱۹۹۹ م کال په انتخاباتو کي د (Lok Sabha) دیارلسم دوره انتخابات ونیول سوه نو په دي انتخاباتو کي ملي دیموکراتیک اتحاد چي د څلورویشتو سیاسي ګووندونو څخه جوړ سوی ؤ یو ساده اکثریت یي تر لاسه کړ او حکومت یي جوړ کړ. د هند خلک اوس د څو ګوندي نظام او د هغه له ماهیته څخه په داسي یو ګڼ ملیتیزه ټولنه کي لکه په هند کي چي ده د حقیقتون څخه خبر سوي دي. له بهر څخه و حکومت ته د حمایت لپاره تازه وړاندیزونه جدي تشویشات د حکومت و ثبات ته په دواړو مرکزي او ایالتي سطحه متوجه کړیدي.

څنګه چي ګوندونه د ټولو قوتونو څخه ګټه اخلي بې له دې چي په حکومت کي برخه واخلي او مسؤلیتونه له یو بل سره شریک کړي. دوی حکومت واکمن ګڼي او په داسي یو حالت کي چي حکومت د دوی غوښتني نه مني، نو د فدرالي او حمایوي ګواښونو په وسیله سره د حکومت پریکړي ننګوي. یوه لاره چي و دغه اخلاقي جلاکیدونو ته د پای ټکی ایږدي، دا به وي چي مقننه قوه منحل سي او اجراییه ځواک او غړي یي د مقننه قوي په څیر صلب صلاحیته سي. د فرانسې او سویس پارلماني نمونې د دا ډول «صلب صلاحیت کولو» څرګندونکي دي که چیري دا ډول اصل «صلب صلاحیت» د هند اساسي قانون ته معرفي سي، نو د جلا کیدني تشویق به اغیزمن سوی وي او له دغه سره میلان ښوونکي غړي به ورک سي چي د جلا کیدو میلان لري. دغه به یې یوه بله یا اضافي ګټه وي چي د ماهرینو د استخدام لپاره به زمینه برابره سوې وي.

په عصري(معاصره) دوره کي باید د اجراییه ځواک غړي په مغلقو او پیچلو اداري ستونزو حلولو کي ماهرین وي نو دا بهتره ده چي په اجراییه ځواک کي باید تر سیاست پوهانو و مهارینو ته په اړوند چارو کي ترجیح ورکول سي. که څه هم دغه به د ریس جمهور لپاره د لمړي وزیر په ګمارلو کي یوه پراخه ستونزه وي او همدرانګه د لمړي وزیر لپاره به د وزیرانو په انتخابولو کي هم یوه پراخه ستونزه وي. پارلمان به همیشه له نږدي څخه پر دغه ستونزه باندي د غیري صادقانه عمل

په بهانه د خپل قوت څخه چي «د نه باور رایه ده» نظارت کوي او د دغه خپل قدرت څخه استفاده کوي او همدارنګه د مخکښي اجرایه قوې څخه به په مجموع کي مخنیوی کوي.

د دغه بحث په جمع بندي کولو کي چي د هندي ګوندي نظام پر روانه بڼه او په هندي سیاستونو کي د روزولو لپاره دی، موږ ویلای سو چي تر اوسه دغه یو د پرمختګ په حال کي ګوندي نظام دی. د ګڼ شمیر سیاسي ګوندونو موجودیت په دواړو ملي او سیمه ایزه سطحه، سیکولر او عوامي سطحه، مناسب بڼه تنظیم سوي، او یا یوڅه کمزوري تنظیم سوي ګوندونه د هندي سیاسي ګوندي نظام سناریو مغلقه او حتی مغشوش کونکې کوي. زه هیله لرم چي تاسو به د سیاسي ګوندونو په نقش او اغیزمنوالي باندي په هندي سیاستونو کي پوه سوي یاست.



**د ليکوال لنډه پيژندګلوي**

زه محمد داؤد افغان د مرحوم انجنير غلام محمد افغان زوی ، د کندهار ولا يت د دريمې ناحيې د افغانپور کلي اصلي اوسيدونکی يم چي په ۱۳۷۲ ه ل کال کي مي دې فاني نړۍ ته سترګي پرانيستلي دي. خپلي لومړنی، منځنی، او ثانوي زده کړي مي په خپل ګران ښايسته ولايت د کندهار په احمد شاه بابا عالي لېسه کي په ( ۱۳۹۰-۱۳۸۹) ه ل کال کي په علي درجه بشپړي کړې دي. په ۱۳۹۱ ه ل کي د کندهار پوهنتون ښووني او روزني پوهنځی د انګليسي ژبې څانګي ته په کانکور ازموينه کي بريالی سوم او په ۱۳۹۵ ه ل کال کي د همدغه پوهنتون څخه په لوړه درجه فارغ سوم.

د يادوني وړ ده چي د لسانس د تر لاسه کولو تر څنګ مي د اِقراء د انګليسي ژبې او کمپيوټر په خصوصي اکاډمۍ کي د انګليسي ژبي د ښوونکي په توګه دنده تر سره کوله او همداسي مي په څو نورو خصوصي تعليمي مراکزو کي د کمپيوټر او د انګليسي ژبي د ښوونکي په توګه دنده اجرا کړيده چي فعلاً هم د ښوونکي په توګه په احمدشاه بابا عالي لېسي او د اِقراء انګليسي ژبي او کمپيوټر اکاډمۍ کي تدريس کوم او همدا مي يوائينۍ هيله ده چي خپلي ګرانې خاوري (افغانستان) او خپلو ګرانو وطنوالو ته په مختلفو برخو کي خدمت وکړم.

دغه مطلب مي د څو اونيو د ژباړي، تحليل او زده کړو يو محصول دی، همداسي فعلاً د دندې د اجرا کولو تر څنګ د څو نورو کتابونو، مقالو او ليکنو په ليکلو او ژباړو باندي مشغول يم، غواړم چي د خپلو آثارو و لوستونکو ته ډېر څه برابر کړم، چي نوي معلومات وي او په پښتو ژبه کي يې کمی احساس کړم !

په درنښت

محمد داؤد (افغان)